د افغانستان اســـلامي امارت
د ارشـــاد ، حج او اوقافـــو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست
د ارشاد او دعوت آمریت
د خطبو دتنظیم عمومي مدیریت

د جمعې د خطبې لارښود مؤرخ: ۱۴۴۳/۹/۷هجری قمری مطابق۱۴۰۱/۱/۱۹هجری شمسی

# د رمضان المبارک روژو آداب او مسائل

الحمدلله الذي شرع لعباده الصیام لتهذیب نفوسهم وتطهیرهم من الأثام، نحمده ونستعینه ونشكره على الآلاء، وأشهد أن لآ إله إلا الله وحده لاشریک في الخلق والأمر، و أشهد أن محمداً عبده ورسوله وصلى الله علیه وآله وأصحابه ومن سارعلی نهجه وتمسک بسنته إلی یوم الدین وسلم تسلیماً كثیراً، اما بعد!

قال الله تعالی:{وَكُلُواْ وَاشْرَبُواْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّواْ الصِّيَامَ إِلَى الَّليْلِ وَلاَ تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ تِلْكَ حُدُودُ اللّهِ فَلاَ تَقْرَبُوهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ}البقره :(۱۸۷)

**ژباړه:** وخورئ او وڅښئ تر څو چې د سهار له تورې کرښې څخه سپینه کرښه درته روښانه شي، بیا تر شپې پورې روژه پوره کړئ او له ښځو سره مخالفت مه کوئ، په داسې حال کې چې تاسو په جوماتونو کې ایمان لرئ، دا احکام د الله حدونه دي، نو تاسو یې وکړئ. دوی ته مه نږدې کیږئ او خدای تعالی داسې دی، هغه خپل آیتونه خلکو ته څرګندوي ترڅو دوی متقیان شي.

په اسلام کې عبادات بیلابیل ډولونه او شکلونه لري، چې ځینې عبادات په ژبه پورې اړه لري، لکه دالله جل جلاله ذکر، دعوت، په نیکیو امر کول او له بدیو منع کول، تعلیم...چې په الفاظو سره ترسره کیږي، خو ځینې نور عباداتونه داسې دي چې په عمل سره ترسره کیږي؛ لکه لمونځ، زکات، جهاد... ځینې نور یې بیا نه لساني دي او نه عملي دي، بلکې یوازې پرهیزګاري او ځان ساتل دي لکه روژه، چې له سهاره څخه تر ماښامه پورې له خوراک، څښاک او جماع څخه ډډه کول پکې شامل دي.

د روژه هغه مبارکه میاشت ده چې الله تعالی په کې مسلمانانو ته په خپل نفس باندې د کنټرول زمینه میسر کړی ده چې په خپل نفس باندې کنټرول ولري، روژه د انسان اراده پیاوړې کوي او انسان ته صبر او تحمل ور په برخه کوي.

روژه د خپل نفس سره د مبارزې میاشت ده، هغه څوک چې له نفس سره جګړه نه شي کولای، هغه هیڅکله له دښمن سره جګړه نه شي کولای، که چیرې څوک په خپل نفس او خواهشاتو باندې باندې غالب نه شي، ناشونې ده چې ددښمن سره جهاد وکړي.

روژه د نورو عباداتو په څیر ځان ته آداب او مکملات لري چې روژه دار باید دا آداب مراعت کړي ، که چیرې څوک روژه نیسي خو د روژې آدابو خیال نه ساتي ، په روژه کې به یې برکت نه لري په دې جمعه کې د روژې آدابو په اړه یو څو خبرې له تاسو سره شریکوو

**د رمضان د روژې آداب:**

د روژې آداب دوه ډوله دي، یو هغه ډول کارونه دي چې پرېښودل یې مطلوب دی او بل هغه ډول آداب دي چې کول یې مطلوب دي.

**لومړی: هغه کارونه چې پرېښودل يي مطلوب دی.**

**۱- د هغه ټولو کارونو او خويونو څخه ځان او اعضاء ساتل چې د روژې سره مخالف دي:**

لکه څنګه چې حاجي د احرام د اغوستلو په وخت کې د احرام د مخالفو ځيزونو څخه ځان ساتي، همدا ډول روژه دار بايد له هغو شيانو څخه ځان وساتي چې د روژې مخالف وي.يا په بل عبارت سره روژه دار بايد يواځې په نه خوړلو او نه څکلو اکتفا ونه کړي ؛ بلکې د روژه دار ژبه، لاسونه، سترګې ، غوږونه او د ټول بدن اعضاء د هغه کارونو څخه روژه وي چې شريعت ورڅخه منع فرمايلی ده.لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ –صلى الله عليه وسلم-:(مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ) صحيح البخاري-نسخة طوق النجاة

**ژباړه:** له ابی هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې په روژه کې دروغ ويل او په درواغو عمل کول پری نږدي ، دالله تعالی دې ته حاجت نشته داسې شخص خوراک او څښاک بند کړي.

قال المهلب: "فيه دليل على أن حكم الصيام الإمساك عن الرفث وقول الزور، كما يمسك عن الطعام والشراب، وإن لم يمسك عن ذلك فقد تنقص صيامه، وتعرض لسخط ربه، وترك قبوله منه". [شرح ابن بطال على صحيح البخارى]

**ژباړه:** امام مهلب رحمه الله وايي: په دې حديث کې ددې خبرې دليل دی چې په روژه کې څرنګه د خوراک څښاک څخه ځان ساتل دي همدا راز ددرواغو څخه ځان ساتل هم ضروري دي او څوک چې ددرواغو څخه ځان ونه ساتي د روژې ثواب يي کميږي او دالله تعالی د قهر سره مخ کيږي او روژه يي د نه قبليدو دخطر سره مخ کيږي.

په يو بل حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلاَّ الْجُوعُ ، وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلاَّ السَّهَرُ. مسند أحمد والدارمی

**ژباړه:** له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله وسلم فرمايلي دي: ډېر داسې روژه دار شته چې پرته له ولږې څخه ورته بل څه نه ورسيږي يعني د روژې اجر يي نه په برخه کيږي اوډير داسې دتهجدو لمونځ کوونکي شته چې پرته له شپې تيرولو ورته نورڅه نه رسيږي.

وعن عمر رضي الله عنه قال: (ليس الصيام من الطعام والشراب، ولكن من الكذب والباطل واللغو والحلف) المصنف لابن أبي شيبة

**ژباړه:** عمر رضی الله عنه فرمايلي دي: روژه يواځې د خوراک او څښاک څخه په پرېښودو کې نه ده؛ بلکې حقيقي روژه د رواغو، بی ځايه خبرو اوبې ځايه قسم خوړلو څخه ده.

وقال جابر رضي الله عنهما: (إذا صمت فليصم سمعك، وبصرك، ولسانك عن الكذب، والمآثم، ودع أذى الخادم وليكن عليك وقار وسكينة يوم صيامك، ولا تجعل يوم صيامك وفطرك سواء) المصنف لابن أبي شيبة

**ژباړه:** حضرت جابررضی الله عنه فرمايي: کله چې روژه شوی بايد خپل غوږونه هم روژه کړه، سترګې دی هم روژه کړه،او ژوبه دې د درواغو او ګناهونو څخه روژه کړه، خادم ته ضرر رسول پرېږده؛ په کارده چې د روژې په ورځ کې په تا کې وقار او بردباري زياته وي او داسې نه چې د روژې ورځ او بله عادي ورځ دې يوشان وي. يعني په ځان او خوی کې دی بايد مثبت تغير راولی.

- **همدا راز** په روژه کې د ټولو هغو کارونو او ويناؤ څخه ځان ساتل دي چې الله جل جلاله حرام کړي دي؛ لکه نامحرمو ته کتل، حرام شيانو کتل او هغه ليدل، پردی غيبت اوريدل او نور ناوړه خبری او سندری اوريدل ، او ژبه د ټولو ناوړه کارونو څخه ساتل دي لکه غيبت، چغلي ، کنځلی کول که څوک درسره جګړه کول غواړي بايد ورته ووايي چې:

(انی صائم) زه روژه يم يعني د بالمثل بدو ويلو څخه بند يم.

په حديث شريف کې راځي: (عن أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم، قَالَ: الصِّيَامُ جُنَّةٌ، فَلاَ يَرْفثْ وَلاَ يَجْهَلْ، وَإِنِ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ) اللؤلؤ والمرجان فيما اتفق عليه الشيخان

**ژباړه:** د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: روژه ډال دی ، په روژه کې دې روژه دار فحش نه وایي او نه دې وايي د جهالت خبری، که چیرې څوک ورسره جګړه کوي او یا ورته کنځل کوي په ځواب کې دې ورته ووایي: زه روژه یم.

**دوهم: هغه آداب اوعملونه چې کول یي مطلوب دي او د روژې ثواب وربانديې زیاتیږي.**

**۲-پیشلمی کول** :

د روژه دار لپاره پیشلمی کول مستحب دي، ځکه په پیشلمی کې ډېر برکتونه دي چې له یوې خوا په پیشلمي سره د روژه دار جسم تقویه کیږي او د روحي او رواني خوشحالیو باعث ګرځي او له بلې خوا د شپې روژه دار دشپې د آخري بر خې له فیوضاتو څخه برخمن کیږي.

لکه څنګه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث کې راغلي دي:عن أنس رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم : ( تَسَحَّرُوا ؛ فَإنَّ في السُّحُورِ بَرَكَةً ) متفق عليه

**ژباړه:** له انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: پیشلمی وکړئ، بیشکه په پیشلمي کې برکت دی.

ځیني کسان د خوب له زوره پیشلمي ته نه پاځیږي ، حال دا چې پیشلمی هم یو ډول عبادت دی او بل داچې زمونږ د روژو او داهل کتابو د روژې ترمنځ فرق په پیشلمي کې دی.

په حدیث شریف کې راځي: وعن عمرو بن العاص رضي الله عنه: أنَّ رسول الله صلى الله عليه وسلم، قَالَ: ( فَصْلُ مَا بَيْنَ صِيَامِنَا وصِيَامِ أهْلِ الكِتَابِ، أَكْلَةُ السَّحَرِ) رواه مسلم .

**ژباړه:** زمونږ او داهل کتابو د روژې ترمنځ فرق د پیشلمي خوراک دی.

په یو بل حدیث کې راځي:عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:( السَّحُورُ أَكْلُهُ بَرَكَةٌ فَلَا تَدَعُوهُ وَلَوْ أَنْ يَجْرَعَ أَحَدُكُمْ جُرْعَةً مِنْ مَاءٍ فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الْمُتَسَحِّرِينَ). مسند أحمد - الرسالة

**ژباړه:** د ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : د پیشلمي خوراک کي برکت دی ، مه یي پریږدئ ولو که ستاسو څخه یو څوک په یوه لپه اوبو بانديې پیشلمي وکړي، بیشکه الله جل جلاله په پیشلمي کوونکو رحمت نازولي او ملائکې پیشلمي کوونکو لپاره دعاء غواړي.

**۲- په روژه ماتي کې عجله کول:**

د روژه دار لپاره مستحب دی او دسنتو موافق عمل دادی چې کله روژه دار د لمر په غروب او پری وتو بانديې متیقن شي او په اسمان کې وریځ نه وي، باید چې په خپل وخت روژه ماته کړي او روژه ماتی دې نه وروسته کوي، ځکه چې په خپل وخت سره روژه ماتول دیني او شرعي او بل داچې په وخت روژه ماتولو کې د اهل کتابو سره مخالفت راځي؛ ځکه اهل کتابو به روژه ماتی ناوخته کولو چې په دې سره هغوی په خپل دین کې یو ډول زیادت رامنځ ته کړی ؤ. پیغمبرعلیه السلام فرمایلي دي. عن سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم، قَالَ: لاَ يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ) متفق عليه

**ژباړه:** له سهل ابن سعد رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خلک به ترهغې په خیر کې وي ترڅو چې هغوی په روژه ماتي کې عجله کوي.

علامه کاساني رحمه الله لیکلي دي: (وَيُسَنُّ تَعْجِيلُ الْإِفْطَارِ إذَا غَرَبَتْ الشَّمْسُ هَكَذَا رُوِيَ عن أبي حَنِيفَةَ أَنَّهُ قال وَتَعْجِيلُ الْإِفْطَارِ إذَا غَرَبَتْ الشَّمْسُ أَحَبُّ إلَيْنَا) بدائع الصنائع (۲/ ۱۰۵)

**ژباړه:**او په روژه ماتي کې عجله کول سنت دي؛ کله چې لمر پریوځي دا خبره دامام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه څخه داسې روایت شوی ده چې هغه فرمایلي دي: کله چې لمر پریوزي په روژماتي کې عجله کول مونږ ته غوره ده.

**۳- د روژه ماتي په وخت کې دعا:**

مسلمان تل هڅه کوي چې د الله جل جلاله له دربارڅخه دځان او نورو لپار دعاء وغواړي، مگر هغه وخت چې مسلمان باید کوښښ وکړي چې په داسې کې دځان لپاره او نورو لپاره زیاته وغواړي په روژه کې ، په ځانگړي توگه د روژه ماتي په وخت باید د الله جل جلاله څخه زیاته دعاء وغواړي؛ ځکه د روژه ماتي په وخت کې دعاء قبلیږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: یو وخت چې یو څوک د ډیر دعا کولو هڅه وکړي روژه ونیسي او روژه مات کړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (عن عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ يَقُولُ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ : إِنَّ لِلصَّائِمِ عِنْدَ فِطْرِهِ لَدَعْوَةً مَا تُرَدُّ. قَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ : سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو يَقُولُ إِذَا أَفْطَرَ : اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِرَحْمَتِكَ الَّتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ أَنْ تَغْفِرَ لِي). سنن ابن ماجة

**ژباړه:** عبدالله ابن عمرو ابن العاص رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بیشکه د روژه ماتي په وخت کې د روژه دار دعا نه رد کیږي. د حدیث راوي ابن ابی ملیکه وایي چې ما دعبدالله ابن عمرو څخه اوری دلي دي چې د روژه ماتي پر وخت به یي دا دعاء کوله: ای الله ! ستا څخه ستا دهغه رحمت په وسیله دعاء کوم چې هرڅه ته شامل دی، ماته ببښنه وکړه.

او همدارنگه په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( ثَلَاثَةٌ لَا تُرَدُّ دَعْوَتُهُمْ: الصَّائِمُ حَتَّى يُفْطِرَ، وَالإِمَامُ العَادِلُ، وَدَعْوَةُ المَظْلُومِ) سنن الترمذي

**ژباړه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دري کسان دی چې دهغوی دعاگاني نه رد کیږي( قبلیږي). روژه دار تر څو چې روژه ماته کړي، دوهم عادل امام دعاء، دریم د مظلوم دعاء.

**۴- سخاوت او د قرآن کریم تلاوت:**

که څه هم د قرآن کریم تلاوت او سخاوت د مسلمان لپاره په هروخت کې ځانگړی اهمیت لري، خو د روژې په مبارکه میاشت کې پر دغو دوو اعمالو ډیر ټینگار شوی دی. لکه څنگه چې امام بخاري د ابن عباس (رضي الله عنه) روایت نقل کړی دی: (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ –صلى الله عليه وسلم- أَجْوَدَ النَّاسِ وَكَانَ أَجْوَدَ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ فَلَرَسُولُ اللهِ –صلى الله عليه وسلم- أَجْوَدُ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ) صحيح البخاري-نسخة طوق النجاة

**ژباړه:** له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خلکو کې تر ټولو زیات سخی وو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم سخاوت هغه وخت نور هم زیات شو کله به یي په رمضان کې د جبرائیل علیه السلام سره ملاقات وشو او جبرائیل علیه السلام به د رمضان په هره شپه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملاقات کولو او دپیغمبرعلیه السلام سره به یی قرآن کریم تکرارولو، یقینا چې پیغمبرعلیه السلام د تیز باد څخه زیات دخیر په کارونو هم تیز ؤ.

بناءً رمضان کې د قرآن کریم تلاوت او دصدقاتو ورکول تر بل هر وخت زیات ثواب لري؛ ځکه په دې میاشت کې نفلي عبادت د فرضو عبادت ځای نیسي.

مونږ ته په کاردي چې داسې غوره وختونه غنیمت وگڼو او د قرآن کریم له تلاوت څخه غافل نه شو.

(وكان مالكٌ رحمه الله إذا دخلَ رمضانُ تركَ قراءةَ الحديثِ وَمَجَالسَ العلمِ وأقبَل على قراءةِ القرآنِ من المصْحَف)

**ژباړه:** امام مالک رحمة الله علیه به په رمضان کې درس حدیث او دعلم مجالس پریښودل او دمصحف له مخې د قرآن کریم تلاوت ته به یې مخه کړه.

(وكان سفيان الثوري: إذا دخل رمضان ترك جميع العبادة وأقبل على قراءة القرآن). [لطائف المعارف]

**ژباړه:** کله به درمضان میاشت داخله شوه امام سفیان ثوری رحمة الله علیه نورنفلي عبادات پریښودل او دقرآن کریم تلاوت ته به یې مخه کړه.

**۶- د تراویح په لمانځه باندې اهتمام:**

د فرض لمونځ څخه علاوه په رمضان المبارک کې باید امام سره په مسجد کې دتراویح لمونځ باندې اهتمام په کاردی ؛ ځکه چې د تراویح لمونځ د شپې په قیام اللیل کې حسابیږي او په رمضان کې قیام اللیل د رمضان قائمولو معنالري.

پیغمبرعلیه السلام فرمایي:(عن أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا واحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ ) متفق علیه

د ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې په رمضان کی د ثواب لپاره په عبادت ودریده، دایمان په بنا او داجر په نیت سره ټول تیر ګناهونه به یې وبښل شي.

محدثینو ویلي دي چې ددې حدیث څخه مراد دتراویح لمونځ دی.معنا داچې دتراویح لمونځ د رمضان دقیام معنالري.

ځینې خلک ګورو چې د ورځې له خوا روژه نیسي خو دتروایح د لمانځه په اړه بې پروا یې کوي، چې په دې کارسره د لوی ثواب څخه محرومیږي.

په کارده چې مونږ په روژه کې د صحابه ؤ ، تابعینو او مشرانو تګلاره تعقیب کړو په روایاتو کې راځي چې دصحابه ؤ په زمانه کې دومره اوږدې تراویح هغوی کولی چې آن پیشلمي ته نږدې به له تراویح څخه فارغیدل.

د ورځې روژه او دشپې لمونځونه کول د رمضان د پوره حق اداکولو معنا لري.

په یو حدیث شریف کې راځی: ( إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا قَامَ مَعَ الْإِمَامِ حَتَّى يَنْصَرِفَ، حُسِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ ) مسند أحمد الرسالة

**ژباړه:** کوم سړی چې دامام سره په لمانځه ودریږي؛ ترهغې ورسره وي چې امام له لمانځه څخه وګرځي، دټولې شپې دعبادت اجرکې ورته به حساب شي.

**۷- په عبادت کې کوښښ کول، په ځانګړې توګه د روژې په وروستیو لسو ورځو کې:**

ځکه د اکثرو علماوو په اند د قدر شپه چې په هغه کې عبادت د زرو میاشتو له عبادت څخه غوره دی، د رمضان په اخري لسیزه کې ده، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک عادت داسې ؤ چې کله به د روژې مبارکې اخیري لس ورځې داخلې شوی، په عبادت کې به یې ډېرکوښښ کولو؛ حتی خپله کورنۍ به یې هم تشویقوله؛ لکه څرنګه امام بخاري او مسلم دعائشې رضي الله عنها څخه روایت نقل کړی دی: (عن عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم، إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ وَأَحْيَا لَيْلَهُ، وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ) متفق علیه

**ژباړه:** له ام المؤمنین عایشه رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله چې د رمضان وروستۍ لسیزه داخله شوه خپله ملا به یې کلکه وتړله او شپې به یې په عبادت تیروله او خپله کورنۍ به یې هم عبادت ته راپاڅوله.

**اقول قولي هذا ، استغفرالله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**